# په څاروو رحم اوکړئ

07-July-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

7جولائي 2022ء  د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# په خارووو رحم اوكړئ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا ته چې څه اهم حاجت پيښ شي، هغوئي دې په ما زيات درود شريف لولي ځكه چې درود شريف، غمونه، تكليفونه او مصيبتونه لرې كوي او په رِزق كښې اضافه كوي.[1]

دُور ہو جائیں دُنیا کے رنج و اَلَم ہو عطا اپنا غم دیجئے چشمِ نم
مال ودولت کی کثرت کا طالب نہیں تم پہ ہر دم کروڑوں دُرُود و سلام[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

1…بُستانِ الواعِظين، صفحه:241۔

2…وسائلِ بخشش، صفحه:604۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اَلنِّیَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنّةَ یعني ښه نِیَّت بنده جَنَّت ته داخلوي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نیك او جائز کار نه مخکښې د ښه ښه نِیَّتونو کولو عادت جوړ کړئ چې هغه نِیَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ✿ د علمِ دِین زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ✿ چې څومره کیدے شو د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ✿ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بیان اورم ✿ څه چې واورم بخپله به پرې د عمل کولو او نورو د رَسَولو کوشش کووم ✿ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ رسول! اوس چې کومې ورځې مونږ تیروو یعني 8، 9، 10 ذي الحج او په دې پسې د 11 نه 13 ذي الحج پورې، دا ډیرې اهمې او فضیلت والا ورځې دي.

۞ د الله پاک نبي حضرت ابراهیم خلیلُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام چې په کومه



1…مسندِ فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حدیث:6895۔

www.dawateislami.net

شپه د څوئ د قربانۍ په باره کښې خوب اوليدلو د هغې نه پس راتلونکې ورځ د 8 ذي الحج ورځ وه. په هغه ورځ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام غور وفکر کولو چې دا خوب د الله پاک د طرف نه وحي ده او که نه؟ ځکه 8 ذي الحج ته **يَومُ التَّروِيَه** (يعني د سوچ او فکر ورځ) وئيلے شي. ۞ په 9 ذي الحج حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته پته اولګيدله چې دا خوب د الله پاك د طرف نه وحي ده، ځکه 9 ذي الحج ته **يَومُ العَرَفَه** (يعني د پتې لګيدو ورځ) وئيلے شي ۞ بيا په 10 ذي الحج حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د خپل شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په مرئ چاړه کيښوده او د اطاعت او فرمانبردارئ، د الله پاک د محبت، د قربانئ د جذبے ئې يو لوئ مثال جوړ کړو، د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په فِديه کښې د جنّت نه ګډ راويستے شو او حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هغه قرباني کړو، ځکه 10 ذي الحج ته **يَومُ النَّحر** (يعني د قربانئ ورځ) وئيلے شي ۞ د دې نه پس چې کومې درې ورځې دي (11، 12، 13 ذي الحج) دې ته اَيَّامِ تشريق وئيلے شي.

## جنّت واجب کيږي...!!

د حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې 5 ورځې ژوندئ کړې (يعني ويخ پاتې شو او په عبادت کښې ئې تيرې کړې)، د هغه د پاره

جنّت واجب کيږي. هغه 5 ورځې دا دي: لَيْلَةُ التَّرْوِيَه (يعني د 8 ذی الحج شپه) (2) لَيْلَةُ عَرَفَه(يعني د 9 ذی الحج شپه) (3)لَيْلَةُ النَّحْر (يعني د 10 ذی الحج شپه) (4)لَيْلَةُ الْفِطْر (يعني د وړوکي اختر شپه) (5)لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَان (يعني شب براءَت).[1]

اے عاشقانِ رسول! عبادت چې کله هم اوکړے شي، د دې صرف برکتونه برکتونه دي، صرف فضيلتونه دي، البته دا کومې ورځې چې اوس مونږه تيروو او دا شپې کومې چې په حديثِ پاک کښې بيان شوې، دا د خاص عبادت شپې دي، مونږ له پکار دي چې خپل مصروفيات لږ کم کړو، وخت اوباسو او دا شپې په عبادت کښې تيرې کړو، فرض لمُونځونه خو خامخا ادا کول دي، دې سره سره نفل لمُونځونه هم اوکړو، د قرآنِ پاک تلاوت اوکړو، ذِکرُ الله اوکړو، درود شريف اولولو، ديني کتابونه اولولو، علمِ دين زده کړو، غرض په څه نا څه طريقه چې زمونږ دا ورځې په عبادت کښې تيرې شي نو اِنْ شَآءَ الله الْكَرِيْم! ډيرې نيکئ به مو نصيب شي، ثواب به ميلاؤ شي او که چرې الله پاک اوغوښتل نو اِنْ شَآءَ الله الْكَرِيْم! جنّت ته داخليدل به مو هم نصيب شي.



1…ترغيب والترهيب، كتاب العيدين والاضحية، صفحه:373، حديث: 2۔

www.dawateislami.net

مرے دِل سے دُنیا کی چاہت مٹا کر کر اُلفت میں اپنی فنا یا اِلٰہی!
بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صَدْقہ گُناہوں سے ہر دَم بچا یا اِلٰہی!
مِرا ہر عَمَل بس ترے واسطے ہو کر اِخلاص ایسا عطا یا اِلٰہی!
عبادت میں گزرے مری زندگانی کرم ہو کرم یا خُدا یا اِلٰہی![1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مدني مذاکرو کښې شرکت اوکړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې مبارکو ورځو په عبادت کښې د تیرولو یوه اهمه ذریعه مدني مذاکره هم ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسنت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ورومبي ذي الحج نه د 10 ذي الحج پورې په مدني چینل لائیو (براهِ راست) مدني مذاکره (یعني د سوال او جواب) سلسله کوي، مدني مذاکره د عِلمِ دین زده کولو، د خپلې اِصلاح کولو او د عَمَل جذبه موندلو بهترینه ذریعه ده. تاسو هم په دې مدني مذاکرو کښې شرکت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِیْم! بیشمیره برکتونه به در نصیب شي.

## د تکبیرِ تشریف لوستلو قرآني حکم

په دویمه سیپاره، سورهٔ بقره، آیت: 203 کښې الله پاک ارشاد فرمائي:



1…وسائل بخشش، صفحه:105۔

www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْۤ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ (پاره:2،سورۂ بقره:203) | [مفهوم] ترجمۂ کنز الایمان: او د الله یاد اوکړئ په شمیرلے شوؤ ورځو کښې. |

په تفسیرِ صراط الجنان کښې دي. د شمیرلے شوؤ ورځو نه مراد اَیَّامِ **تشریق** دي او د ذِکرُ الله نه مراد د لمُونځونو نه پس د حج کولو په وخت د رمئ جمرات [یعني شیطانان ویشتلو] په وخت تکبیر وئیل دي.[1]

## تکبیرِ تشریق د کله نه تر کوم وخته پورې لوستے شي!

**یاد ساتئ!** د نوم په لحاظ سره د 11 ذي الحج نه د 13 ذي الحج پورې (یعني 3 ورځو) ته اَیَّامِ **تشریق** وئیلے شي خو د تکبیرِ تشریق وئیلو چې کوم حکم دے هغه د 9 ذي الحج د سحر نه د 13 ذي الحج تر مازدیګره پورې دے، بهارِ شریعت کښې دي: د 9 ذي الحج د سحر نه د 13 ذي الحج تر مازدیګره پورې هر فرض لمُونځ کوم چې په جَمعې سره ادا کړے شي، د هغې نه پس یو ځل په تیز آواز سره تکبیر وئیل واجب دي او درې ځله تکبیر وئیل افضل دي، دې ته **تکبیرِ تشریق** وئیلے شي. **تکبیرِ تشریق** دا دے: اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لِلّٰهِ الْحَمْد.

۞ تکبیرِ تشریق د سلام نه پس سمدستي وئیل واجب دي ۞ او

323

1…تفسیر صراط الجنان، پاره:2،سورۂ بقرة:،تحت الآیة:203،جلد:1،صفحه:321۔

څوک چې په جَمعه کښې وروستو شامل شي او د هغوئي بعضې رکعتونه پاتې وي، د هغوئي د پاره حکم دا دے چې هغوئي دې خپل باقي پاتې رکعتونه اوکړي او چې کله سلام اوګرځوي، هغه وخت دې تکبير اووائي، په هغوئي هم تکبير وئيل واجب دي.[1]

## تکبيرِ تشريق څه څيز دے؟

مُفَسِّرِ قرآن، حکيم الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: تکبيرِ تشريق په اصل کښې د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام، حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام او حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام د خبرو مجموعه ده. کله چې حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام په مرئ چاړه کيښوده، حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام ته الله پاک د جنتي ګډ حاضرولو حکم اوکړو، حضرت جبرائيلِ امين عَلَيۡهِ السَّلَام ګډ راويستو او په تيز آواز ئې دا اووئيل: اَللّٰهُ اَكۡبَرُ اَللّٰهُ اَكۡبَر، دې آواز اوريدلو سره حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام سر راپورته کړو، اوئې کتل، چې حضرت جبرائيلِ امين عَلَيۡهِ السَّلَام جنتي ګډ حاضروي، په دې حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام اولوستل: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكۡبَر. بيا د الله پاک په حکم د حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام بنيې پرانستے شوې او هغوئي ته د قربانۍ قبليدو زيرے ورکړے شو نو حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام اووئيل: اَللّٰهُ اَكۡبَر وَلِلّٰهِ الۡحَمۡد.



1…بهارِ شريعت، جلد: 1، صفحه: 784، حصه: 4۔

www.dawateislami.net

هغه وخت چې حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام څه اولوستل، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې څه اولوستل، حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام چې څه اولوستل، هغه يو ځائے کړے شو، هغې ته تکبيرِ تشريق وئيلے شي: اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْد.[1]

کاش! چې مونږه خپل دا انداز جوړ کړو چې د هر لمُونځ نه پس سترګې پټې کړو، د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د قربانئ خيال په زړه کښې راولو او تکبيرِ تشريق اولولو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د تکبير لوستلو مزه به يو په دوه شي. الله پاک دې مونږ له توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## اَيَّامِ تشريق د ذِکرُ الله ورځې دي

اے عاشقانِ رسول! د 10 ذي الحج (يعني د غټ اختر د وړومبئ ورځې) نه د 13 ذي الحج پورې، يعني په دې څلورو ورځو کښې روژې نيول شرعاً منع دي، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَا وَاِنَّ هٰذِهِ الْاَيَّامَ اَيَّامُ اَكْلٍ وَّشُرْبٍ وَّذِكْرِ اللّٰهِ واورئ! بيشکه دا ورځې د خوراک څښاک او د ذِکرُ الله ورځې دي.[2]

حکيم الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ



1…مرآة المناجيح، جلد:2، صفحه: 88 مفهوماً۔

2…مسلم، کتاب الصيام، باب تحريم صوم ايام التشريق، صفحه:412، حديث: 1141۔

www.dawateislami.net

پاک وضاحت کوي، فرمائي: مطلب دا دے چې دا ورځې د بندګانو د میلمستیا ورځې دي، په کومو کښې چې الله پاک کوربه او بندګان میلمانه وي، ځکه په دې ورځو کښې روژه نیول لکه چې د الله پاک د دعوت نه اِنکار کول دي، ځکه په دې ورځو کښې خوراک! څښاک! کوئ او د الله پاک ډیر ذکر کوئ! [1]

## د ذِکرُ الله څه اِختِتَامي وخت نشته

علمائے کرام فرمائي: د حج او قربانئ پوره کیدو نه پس چې کومې ورځې دي، په دغه ورځو کښې الله پاک په خصوصیت سره د ذِکرُ الله حکم اوکړو. د دې نه دا مدني ګل زده کول میلاو شو چې د هر عبادت یو ټاکلے شوے وخت دے، مثلاً لمُونځ د تکبیرِ تحریمه نه شروع کیږي، په سلام ختم شي، روژه د پیشمني نه شروع کیږي او په روژه ماتي ختمه شي، دغه شان د حج هم خاص ورځې دي، غرض د هر عبادت یو ټاکلے شوے وخت دے خو ذِکر هغه عبادت دے د کوم چې څه ټاکلے شوے وخت نشته، دا د ټول عمر عبادت دے، یعني بنده دا خو وئیلے شي چې لمُونځ مې کړے دے خو دا نشي وئیلے چې د ذِکرُ الله نه فارغ شوے یم،



1…مرآۃ المناجیح، جلد:3، صفحه:186 بتغیر قلیل۔

www.dawateislami.net

ذِکرُاللّٰه د ټول عمر عِبَادت دے، د دې اختتامي وخت صرف مرګ دے. ځکه مونږ له پکار دي چې همیشه خپله ژبه په ذِکرُ اللّٰه لمْده اوساتو، خاص طور په اَیَّامِ تشریق کښې خو چې ډیر ذِکر اوکړو چې دې ورځو کښې د ذِکرُ اللّٰه خاص حکم کړے شوے دے. اللّٰه پاک دې مونږ له د ډیر ذِکر کولو توفیق راکړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کاش لب پر مرے رہے جاری ذِکر آٹھوں پہر ترا یا رَبّ!
چشمِ تَر اور قلبِ مُضطَر دے اپنی اُلفت کی مے پلا یا رَبّ![1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعاګانو د قبلیدو ورځې

حضرت ابو موسٰی اشعري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، هغوئي په 10 ذي الحج خطبه ورکړه او اوئې فرمائیل: شمیرلے شوې ورځې (یعني اَیَّامِ تشریق)، په کومو ورځو کښې چې اللّٰه پاک د ذِکرُ اللّٰه حکم کړے دے، دا هغه مبارکې ورځې دي چې دې کښې دُعا نه رَدّ کیږي. ځکه په دې ورځو کښې اللّٰه طرف ته خپل رغبت نور هم زیات کړئ.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خورو او محترمو اسلامي وروڼړو! اَیَّامِ تشریق د دُعاګانو



1…وسائل بخشش، صفحه:79۔

2…لطائف المعارف، صفحه:388۔

www.dawateislami.net

قبليدو ورځې دي، په دې ورځو کښې ښه ډيرې دُعاګانې اوکړئ، د الله پاک نه بخښنه اوغواړئ، جنّت اوغواړئ، د سختو نه د خلاصي دُعاګانې اوکړئ، د مدينے منورې بيا بيا با اَدَبه حاضري اوغواړئ، مدينه منوره کښې د مړه کيدو دُعاګانې اوغواړئ، د دِين خير هم اوغواړئ، د دُنيا خير هم اوغواړئ.

حضرت عکرمه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: اَيَّامِ تشريق کښې دا دُعا کول مستحب ده، کومه دُعا؟ کومه چې الله پاک په قرآنِ کريم کښې مونږ ته ښودلې ده:

رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ (پاره:2،سورۂ بقره:201)

[مفهوم] ترجمۂ کنز الايمان: اے رَبَّه زمونږه! مونږ ته په دُنيا کښې خير راکړې او مونږ ته په آخرت کښې هم خير راکړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه بچ کړې.[1]

اِلٰہی! میں تیری عطا مانگتا ہوں کرم مغفرت کی دُعا مانگتا ہوں
اِلٰہی! نہیں مانگتا مال و دولت فقط تجھ سے تیری رضا مانگتا ہوں
نہ دے ایسی خوشیاں جو غفلت میں ڈالیں خُدایا! غمِ مصطفٰے مانگتا ہوں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په ښاروو رحم اوکړئ!

اے عاشقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د قربانۍ ورځې رانزدې دي، هر خوا د



1…لطائف المعارف، صفحه:388۔

www.dawateislami.net

سُنَّتِ ابراهیمي خبرې دي، خوش قسمته خلق د الله پاک د خلیل حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د سُنَّت ادا کولو د پاره مال خرچ کوي او ښکلي ښکلي څاروي اخلي، په کوڅو کښې د څارووو زور دے، کوم خوش نصیبه عاشقانِ رسول چې روان کال د قربانۍ کولو سعادت حاصلوي، الله پاک دې د هغوئي قربانۍ په خپلې بارګاه کښې قبولې کړي او څوک چې د قربانۍ وَس نه لري او په زړونو کښې ئې ارمان ساتلے دے، الله پاک دې هغوئي له هم وَس ورکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د قربانۍ په ورځو کښې څاروي اخستلے کیږي هم، څو ورځې په کور کښې د ساتلو سلسله هم وي، په دې تَعَلُّق سره مونږ له پکار دي چې مونږه د څارووو حقونه هم زده کړو او د دې بے زبانه پوره خیال هم اوساتو، راځئ! په دې باره کښې یو ښائسته حدیث شریف او د هغې مختصر وضاحت اوریدلو سعادت حاصلوو:

## هر څیز کښې د اِحسَان حکم شوے دے

حضرت شَدَّاد بن اَوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے او د مشهور صحابئ رسول، شاعِرِ دربارِ رسالت حضرت حسَّان بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وراره دے، هغوئي فرمائي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْاِحْسَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ بیشکه الله پاک په

هر څيز کښې د احسان حکم کړے دے **فَإِذَا قَتَلْتُمْ** کله چې تاسو وژنئ (مثلاً چا جرم اوکړو او هغه له د مرګ سزا ورکول وي) **فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ** نو هغه په احسان او ښيګړې سره وژنئ (يعني په داسې انداز کښې هغه له سزا ورکړئ چې زيات تکليف ورته نه وي مثلاً د هغه غوږونه مه کټ کوئ! هغه په اور کښې مه سيزئ! بلکه په داسې انداز کښې ئې وژنئ چې هغه ته کم تکليف اورسي) رحمتِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور اوفرمائيل: **وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَ** او چې کله تاسو حلالوئ [يعني ښاروے ذبح کوئ] نو په هغې کښې هم د احسان او ښيګړې خيال ساتئ! **وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهٗ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهٗ** پکار ده چې چاړه تيره کړئ! او خپل ذبيحه (يعني ښاروي) ته راحت اُورَسَوَئ! [1]

## د ټولو مخلوقاتو په حق کښې د رحمدِلئ بيان

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** دا يو ښائسته حديث شريف دے، په دې کښې زمونږ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شروع کښې يو اُصُول بيان کړو چې **بيشکه اللّٰه پاک د هر څيز سره د احسان کولو حکم کړے دے.** چې هغه هر يو څيز وي، انسان وي، ځناور وي، ميوه دانه، ونه وغيره وي، د هغوئي سره په ښه طريقه سلوك کول، د هر يو سره د هغه د مناسب حال اِحسان والا معامله کول لازمي ده.



1…مصنف عبد الرزاق، کتابُ: المناسک، بابُ: سنة الذبح، جلد: 4، صفحه: 376، حديث: 7635۔

www.dawateislami.net

## د پيالۍ نه د آه! آواز راغلے!

حضرت علي خَوَّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د رحم دِل کيدو په شرطونو کښې دي چې بنده د بے جانه څيزونو سره هم داسې معامله اوکړي، لکه څنګه چې د ژوندو څيزونو سره کولے شي، مثلاً د اوبو لوښے راغستلو او ايښودلو کښې هم د احتياط او ښيګړې نه کار واخلي. نور فرمائي: يو ځل ما کوزه په زوره لاندې کيښوده، چې څنګه مې کيښوده نو د کوزې نه د آه! آواز راغلے (لکه چې په زوره د ايښودو سره کوزې ته هم تکليف اورسيدو)، حضرت علي خَوَّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د هغه ورځې نه زه بے جانه څيزونه هم په نرمۍ سره ګرځَوم.[1]

## وَنې او کاڼي هم تسبيح کوي

کيدے شي چې د چا په زړه کښې وسوسه راشي چې لوښے څنګه خبرې کولے شي؟ په دې باره کښې يو عرض دے، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَ لٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ ؕ<br>(پارہ:15،سورۂ بنی اسرائیل:44) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العرفان: او هيڅ يو څيز داسې نشته چې د هغه د حمد بيانولو سره د هغه پاکي نه بيانوي خو تاسو د دغه څيزونو په تسبيح نه پوهيږئ. |



1...لواقح الانوار القدسيه، العهد السابع و السبعون بعد المائة فی الشفقة و الرحمة، جلد:1، صفحه:573.

مُفَسِّرِين کرام فرمائي: د دُنيا هر يو څيز تر دې پورې چې کانړي او وَنې وغيره ټول څيزونه د الله پاک تسبيح بيانوي، خو! د دوئي تسبيح مونږ نه اورو او نه پرې پوهيږو، صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان فرمائي: مونږه چې به د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ډوډئ خوړله نو ډوډئ به تسبيح کوله، مونږه به هغه تسبيح په خپلو غوږونو اوريدله.[1]

معلومه شوه، چې الله پاک اوغواړي نو بے جانه څيزونه هم خبرې کولے شي، خو! مونږه پرې نه پوهيږو. حضرت علي خَوَّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وَلِئ کامِل وو او اَوليائے کرامو ته الله پاک د ډيرو څيزونو اوريدلو طاقت عطا کوي، څکه هغوئي د لوښي د آه آواز هم واوريدلو. بهر حال! مونږ ته حکم راکړے شو چې مونږه د هر څيز سره اِحسان اوکړو، په هره معامله کښې ښيګړه اوکړو.

## د رحمت عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَحمت يو رُخ!

علمائے کرام فرمائي: الله پاک زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْن راليږلے دے، دا هم د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ډير زيات رَحمَت يو رُخ دے چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هره معامله کښې د احسان او ښيګړې حکم اوکړو، تر دې پورې چې د شرعي حکم بيانولو

323

1…تفسير قرطبي، پاره:15، بني اسرائيل، تحت الآية:44، جلد:5، صفحه2988.

سره ئې د څاروو حلالولو حکم اوکړو، د قربانئ ترغیب ئې هم ورکړو، خو دې سره سره ئې په څاروي باندې د ښیګړې حکم هم اوکړو.

## چیلئ (بیزه) چې کله په بارګاهِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضره شوه

یو ځل یو قَصَّاب د خپلو چیلو (بیزو) ځائے ته لاړو، دروازه ئې بیرته کړه او د حلالولو د پاره ئې یوه چیلئ نیول غوښتل چې هغه د هغه نه خلاصه شوه او اوتښتیده او په منډه منډه د رسولِ رحمت، شفیعِ اُمّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضره شوه، قصاب ورپسې هم شاته اورسیدو، هغه چیلئ د ښپې نه رااونیوله او په راښکلو ئې بوتلله، په دې د دوارو جهانونو سردار، سرورِ کون و مکان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وړومبے چیلئ ته اوفرمائیل: اِصْبِرِیْ لِاَمْرِ اللّٰهِ یعني د الله پاک په حکم صبر اوکړه! بیا ئې د رحمت شان ښودلو سره قَصَّاب ته اوفرمائیل: وَاَنْتَ یَا جَزَّارُ فَسُقْهَا اِلَی الْمَوْتِ سَوْقًا رَفِیقًا اے قَصَّابه! دا د مرګ په لور په نرمئ سره بوځه![1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا د دواړو جهانونو رحمت کولو والا، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کمالِ رحمت دے...!! چیلئ کومه چې د رحمت دربار ته راغلې وه، هغې ته ئې د الله پاک په حکم د صبر کولو تلقین هم اوکړو او دې سره



1…مصنف عبد الرزاق، کتابُ:المناسک، بابُ:سنة الذبح، جلد:4، صفحه:377، حدیث:7640۔

www.dawateislami.net

سره ئې شانِ رحمت هم اوښودلو چې قَصَّاب ته ئې حکم اوکړو: ته دا د الله په حکم د مرګ په لور خو بوځې! دې حالت کښې هم د نرمئ او ښیګړې نه کار واخله! دې سره ښه سلوک اوکړه!

## يو وِراثتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

علمائے کرام فرمائي: مونږه د رَحۡمَةٌ لِّلۡعَالَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتیان یو او د اُمَّتي حق جوړیږي چې هغه د خپل نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نقشِ سیرت د تللو کوشش اوکړي، د خپل نبـي اخلاق خپل کړي، د خپل نبـي کردار خپل آئیډیل جوړ کړي، د خپل نبـي عَلَيْهِ السَّلَام په رنګ کښې د رنګ کیدو کوشش اوکړي. هم دغه وجه ده چې الله پاک مونږ ته هم د هر څیز سره د احسان او ښیګړې حکم راکړو، څکه چې مونږه د رَحۡمَةٌ لِّلۡعَالَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتیان یو او دا زمونږ سره نه ښائي چې مونږه چا ته تکلیف اورسوؤ، چا له غم ورکړو، چا ته بر ناحقه تکلیف ورکړو. امام شَعراني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د رسولِ خُدا، احمد مجتبٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له خوا زمونږ نه دا لوظ اخستے شوے دے چې مونږه د الله پاک په ټول مخلوق د شریعت په حدودو کښې دننه شفقت اوکړو.[1]

دې پسې امام شعراني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډیر ښکلے مدني ګل ورکړے دے،



1...لواقح الانوار القدسیه، العهد السابع و السبعون بعد المائة، جلد:1، صفحه:572۔

فرمائي: په مخلوقاتو کښې چې هر يو پخپله خپل حق کښې ځومره رحم دِله وي، د هغه په حق کښې د هغې نه هم زيات رحم دِل کيدل د رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وراثت دے.[1]

اَللّٰهُ اَکبَر! اے عاشقانِ رسول! د اِسلام ښکلا اوګورئ! اِسلام صرف مونږ ته د رحم دِلئ تعليم نه راکوي بلکه اِسلام دا وائي چې د الله پاک مخلوق چې پخپله په خپل حق کښې ځومره رحم دِله دي، تاسو د هغې نه زيات په هغې رحم دِله شئ!

## په ميږو بے مثاله رحم

حضرت علي خَوَّاص رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير لوئي ولئ کامل وو، د هغوئي په کور کښې به ميږي په نظر نه راتله، د هغوئي مبارک انداز وو چې هغوئي به د خپل کور د وړو وړو سوړو مخې ته خوراک او د ډوډئ وړې وړې ټکړې ايښودې او فرمائيل به ئې: چې ميږي کله اوږي شي نو مجبوراً د رِزق په لټون کښې د خپلو سوړو نه بهر راووځي، بيا کله د چا د ښپو د لاندې راشي يا ئې يو ځناور په ښپو اوچقوي، دغه شان دوئي مره شي، زه د مخکښې نه د ميږو په سوړو کښې ډوډئ وغيره ګرځدم چې دغه شان دوئي ته د بهر وتلو ضرورت پيښ نه شي، د دوئي په کور کښې دوئي ته خوراک



1…لواقح الانوار القدسيه ،العهد السابع و السبعون بعد المائة ، جلد:1،صفحه:573۔

www.dawateislami.net

میلاؤ شي، نه به دوئي بهر راووځي، نه به ځان د اندیښنو سره مخ کوي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! څه ښکلے شان دے، د اللّٰه پاک د نیک بندګانو...!! د هغوئي سوچ ته اوګورئ! څومره عجیبه وو؟ یو میږے کیدے شي چې پخپله هم د ځان دومره خیال نه ساتي، څومره چې ئې حضرت علي خَوَّاص رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ساتي، د دوئي خوراک به ئې د دوئي کور ته رسولو او دوئي به ئې د ممْکنه اندیښنو نه بچ کول.

اللّٰه پاک دې مونږ له هم د داسې رحم دِله جوړیدلو توفیق راکړي، کاش! چې مونږه هم د مخلوقِ خُدا د پاره رحم دِله جوړ شو، په انسانانو، په ځناورو، په مرغو، په میږو مهرباني اوکړو او ثواب اوګټو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## تاسو تر هغه وخته پورې مؤمن نه شئ کیدے تر څو چې....

رسولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: لَنْ تُؤْمِنُوا حَتّٰى تَرَاحَمُوا تاسو تر هغه وخته پورې (کامِل) مؤمن نه شئ کیدے تر څو چې په یو بَل رحم اونکړئ. صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: یا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږه ټول په یو بَل رحم کوو. اوئې فرمائیل: دا مراد نه دے چې تاسو په خپل صاحب (مثلاً په دوست یا ورور) رحم اوکړئ وَلٰكِنَّهَا رَحْمَةُ الْعَامَّةِ



1...لواقح الانوار القدسیه، العهد السابع و السبعون بعد المائة، جلد:1، صفحه:574۔

بلکه د دې نه عام رحمت مراد دے.[1]

يعني د ټولو مخلوقاتو په حق کښې رحم دِله شئ! په ځناورو هم رحم اوکړئ! په مرغو هم رحم اوکړئ! په ميږو هم رحم اوکړئ! غرض! د هر مخلوق په حق کښې رحم دِله جوړ شئ!

## په رحم دِله رحمان رحم کوي

د بخاري شريف حديثِ پاک دے: خوږ نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ ځوک چې په خلقو رحم نه کوي الله پاک په هغه رحم نه کوي.[2]

په يو حديث شريف کښې فرمائي: اَلرَّاحِمُوْنَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمٰن ځوک چې رحم کوونکـي دي، اللّٰهُ رحمان په هغوئي رحم کوي.[3]

## په مچ باندې د رحم کولو په برکت اوبخښلے شو

حُجّةُ الْاِسْلام امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د وفات کيدو نه پس چا په خوب کښې اوليدو، تپوس ئې ترې اوکړو: الله پاک ستا سره څه معامله اوکړه؟ جواب ئې ورکړو: يوه ورځ ما څه ليکل چې يو مچ زما په قلم کښيناستو او سياهي څښله، ما د رحم دِلئ په وجه ليکل بس کړه چې دغه

323

1…مجمع الزوائد، کتاب البر و الصلة، باب رحمة الناس، جلد:8، صفحه:242، حديث:13671۔

2…بخارى، کتابُ التوحيد، صفحه:1782، حديث:7376۔

3…ابو داؤد، کتاب الادب، باب الرحمة، صفحه:774، حديث:4941۔

www.dawateislami.net

مچ خپل ضرورت پوره کړي. بس په مچ باندې د کړي هغه رحم په وجه الله پاک زه اوبخښلم.[1]

## ښځې ته سمدستي شِفا میلاؤ شوه

امام شعراني رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: یو ځل زما ښځه سخته ناروغه وه، تر دې پورې چې د هغې حالت کتلو سره د کور خلقو دا ګنړله چې بس د هغې آخري وخت دے، زه هم ډېر پریشانه ووم، دغه وخت ما ته یو غیبي آواز اوشو چې په فلاني سوره کښې یو مچ دے، هغه یو لوئ مچ ګیر کړے دے، ته هغه مچ خلاص کړه، ستا ښځې ته به شِفا ورکړو. امام شعراني رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: زه سمدستي پاخیدم، سورې ته نزدې شوم، اومې کتل ډېره تنګه سوره وه، ما یو ډَکے سورې ته وردننه کړو، واقعي هلته یو مچ وو کوم چې بل غټ مچ په خُله کښې ګیر کړے وو، څنګه چې ما مچ راخلاص کړو فوراً الله پاک زما ښځې له شِفا ورکړه.[2]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! الله پاک دې مونږ ټولو ته رحم دِلي نصیب کړي، کاش! چې مونږه د الله پاک د مخلوق اِحترام اوکړو، د هر یو سره خیر ښیګړه کوونکي جوړ شو. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

323

1…فیض القدیر، جلد:1، صفحه:606،تحت الحدیث:941۔

2…لواقح الانوار القدسیه، العهد السابع و السبعون بعد المائة فی الشفقة و الرحمة علی الخلق، جلد:1، صفحه:574۔

## د ذبيحه (حلالي) په حق کښې د رحم دِلئ بيان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! رسولِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو اُصُول بيان کړو چې اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْاِحْسَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ بيشکه الله پاک د هر څيز سره د اِحسان او ښيګړې حکم کړے دے. د دې اُصُول بيانولو نه پس هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: وَاِذَا ذَبَحْتُمْ فَاَحْسِنُوا الذِّبْحَ او کله چې تاسو حلالوئ نو په هغې کښې هم احسان او ښيګړه کوئ! وَلْيُحِدَّ اَحَدُكُمْ شَفْرَتَهٗ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهٗ پکار ده چې چاړه تيره کړئ! او خپلې ذبيحه (يعني خاروې) ته راحت اورسوئ![1]

د حديث شريف په دې حِصّه کښې رسولِ رحمت، شفيعِ اُمّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاص طور د حلالولو په وخت په خاروې د رحم کولو حکم کړے دے. د حلالولو په وخت په خاروې رَحم څنګه کول دي؟ عُلَمائے کرامو د دې مختلف شکلونه بيان کړي دي.

### (1): په زړه کښې د نرمئ ساتلو سره ذبحه کوئ!

امام شَعراني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: (د حلالولو په وخت په خاروې د رحم کولو يو شکل دا دے چې کله) مونږه خاروے حلالوو، په هغه وخت کښې هم زمونږ په زړه کښې نرمي وي.[2]



1…ابن ماجه، باب اذا ذبحتم فاحسنوا، صفحه:517، حديث:3170۔

2…لواقح الانوار القدسيه، العهد السابع و السبعون بعد المائة، جلد:1، صفحه:575۔

www.dawateislami.net

یعني د اللّٰه پاک پہ حکم د عمل کولو سره مونږه څاروے خو حلال کړو خو دې شکل کښې دا وي چې مونږه کله د څاروي پہ مرئ چاړه راښکاږو، هغه وخت هم زمونږ پہ زړه کښې رحم وي، هغه وخت هم زمونږ پہ زړه کښې نرمي وي، داسې اوواڼې! چې بنده د اللّٰه پاک حکم پوره کولو د پاره چې کله د څاروي پہ مرئ چاړه راښکاږي، هغه وخت د رحم دِلئ پہ وجه د هغه د زړه دړزا تيزه شي، پہ سترګو کښې ئې اوښکې راشي، داسې زړه کښې د نرمئ او رَحم کيفياتو ساتلو سره څاروے حلال کړے شي. يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پہ بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زه چې کله چيلئ (بيزه) حلالووم نو زما پہ هغې رحم راځي، رحمتِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كه چرې ته پہ چيلئ (بيزې) رحم کوې نو اللّٰه پاک به پہ تا رحم اوکړي.[1]

آه! افسوس! دلته خو معامله اُلټا ده، خلق د قربانئ پہ وخت د څاروو تماشه کوي، بعضې نادانه خو چې څاروي پہ درد کښې اووينې نو پړقې وهي بلكه نن سبا خو د انټرنيټ او سوشل ميډيا دور دے، خلق د څاروو، د هغوئي د درد ويډيوګانې جوړوي او پہ سوشل ميډيا ئې وائرل کوي، اللّٰه پاک دې مونږ ته هدايت نصيب کړي! دا وخت د تماشے کولو نه دے



1…مستدرک، کتابُ:معرفة الصحابة، ، جلد:4، صفحه:765، حديث:6541۔

بلکه د رحم دِلئ په وجه د اوښکو بَهیَولو دے، د هغه څاروي خوش قسمتي ده چې هغه د الله په نوم قربانیږي، د هغه په خوش قسمتئ د رَشک کولو وخت دے.

## (2): د يو په مخکښې بل مه حلالوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حلالې (څاروي) سره د ښیګړې کولو یو شکل دا هم دے چې د یو څاروي په مخکښې بل څاروے حلال نه کړے شي. خاص طور د مور په مخکښې د هغې بچے یا د بچي په مخکښې د هغه مور خو بالکل مه حلالوئ!

## ذِهني توازُن ئې تللو...!!

منقول دي: يو کَس وو، هغه څخے د هغې د مور په مخکښې کښې حلال کړو، ظاهره ده چې د هغې مور ته به تکليف رسيدلے وي خو بے زبانه څاروے خپل غم چا ته بيان کړي؟ د هغوئي څوک اوري؟ الله پاک! کوم چې رَبُّ الْعٰلَمِيْن دے، څاروي د هغه په دربار کښې عَرض کوي، هغه دے چې د ټولو اوري، کيدے شي چې د هغه څخي مور هم د الله پاک په دربار کښې فرياد کړے وي، هغه سړي چې څنګه څخے د هغې د مور په مخکښې حلال کړو نو د هغې سپيروالے دا شو چې د هغه سړي عقل په تللو شو، د هغه ذهني توازُن لا ړو (يعني ليونے شو).

تر ډيرې مودې پورې هغه دغه حالت کښې وو، يو ځل هغه په يو ځائے تيريدلو، هغه په يوه ونه کښې د کرکوړې جاله اوليده، ناڅاپه د هغه جالې نه د کرکوړې يو بچے په زمکه را پريوتو، د هغه ګَس پرې ډير رحم راغلو او هغه ګَس بچے را اوچت کړو او بيرته ئې په جاله کښې کينښودو. بس د دې رحم په برکت په هغه کرم اوشو او د هغه ذهني توازُن بيرته په ځائے شو.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! پته اولګيده! په څناورو د رحم کولو سره اللّٰه پاک رحم کوي! بهر حال! د قربانۍ کولو په وخت د دې خبرې خاص خيال ساتل پکار دي چې د يو څاروي په مخکښې بل څاروے هيڅ کله هم حلال نکړے شي بلکه چې کوم څاروے حلالول وي، هغه يو طرف ته بيل کړئ او هلته ئې حلال کړئ.

## (3): د حلالولو د پاره ئې په نرمۍ سره بوځئ!

په حلالې د رَحم کولو يو صورت دا هم دے چې څاروے رانښکودے شي، بلکه د حلالولو د پاره ډير په نرمۍ سره بوتلے شي. حضرت ابو سعيد خدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: خوږ نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو ګَس په خوا تيريدلو، هغه چيلۍ (بيزه) د غوږ نه نيولې وه او په ځان پسې

323

1…جامع العلوم و الحکم، صفحه:164۔

ئې راښکوده، د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د دې غوږ پرېږده! د ښتې د خوا نه ئې اونيسه![1]

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ يو کَس اوليدلو، هغه چيلئ (بيزه) د ښپې نه نيولې وه او په راښکودو ئې بوتلله، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اوفرمائيل: ستا د پاره دې خرابي وي! دا د مرګ په لور په ښه انداز کښې بوځه...![2]

## (4): چاړه د مخکښې نه تيره کړئ!

حلالې (يعني ځاروي) ته د آرام رَسَوَلو يو صورت سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا بيان کړو چې لِيُحِدَّ اَحَدُكُمْ شَفْرَتَهٗ پکار ده چې چاړه ښه تيره کړئ!

عُلَمائے کرام فرمائي: ځاروي هم د مرګ نه ويرېږي، ځکه پکار ده چې چاړه د مخکښې نه ښه تيره کړے شي، د حلالولو د وخت نه مخکښې ورته چاړه نه دي ښودل پکار او چې کله حلالولے شي نو زر زر پرې چاړه راښکاږئ.[3]

323

1…ابن ماجه، باب اذا ذبحتم فأحسنوا، صفحه:517، حديث:3171۔

2…مصنف عبد الرزاق، جلد:4، صفحه:393، حديث:8605۔

3…جامع العلوم والحکم، صفحه:164۔

د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو ګس په خوا تيريدلو، هغه چيلئ (بيزه) راښملولې وه، د هغې په مرئ ئې ښپه اېښودې وه او چاړه ئې تيره کوله، بيزې هغه ته کتل، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا تا مخکښې داسې نشو کولے؟ آيا ته دا څو څو ځله وژل غواړې؟ د دې د راښملولو نه مخکښې دې چاړه ولې نه تيره کوله؟[1]

## د حلالولو يو څو آداب

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه ښاروي ته د آرام رَسَوَلو د پاره ځينې صورتونه بيانوي او فرمائي: * د غوا وغيره راغورزولو نه مخکښې دې د قبلې تَعَيُّن دې اوکړے شي، د ښملولو نه پس خاص طور په کاڼړو کښې د راښکلو سره مخ قبلې ته اړول بے زبانه ښاروي ته سخت تکليف ورکول دي * د حلالولو په وخت دومره ئې مه کښ کوئ چې چاړه د مرئ هډوکې ته اورسي چې دا بے وجه تکليف دے * تر څو چې ښاروے پوره يخ شوے نه وي تر هغه وخته پورې ئې ښپې مه کښ کوئ او مه ترې څرمن اوباسئ * د حلالولو نه پس تر څو چې ترې روح نه وي وتے، تر هغه وخته پورې ئې د مرئ سره چاړه مه لګوئ، مه ورله لاس ور وړئ * بعضې قَصّابان د زر يخولو د پاره د حلالولو نه پس د تريکو



1…مستدرک، جلد:5، صفحه:327، حديث:7637۔

وهونکي غوا د مرئ ځرمن اوباسي او د چاړې وهلو سره ئې د زړه رګونه کټ کوي* دغه شان د چيلي حلالولو نه سمدست پس ئې ښت ماتوي، په بے زبانو داسې قسم ظلمونه کول نه دي پکار * د چا نه چې څومره کيدے شي د هغه د پاره ضروري ده چې ځاروي ته بغير د څه وجې تکليف رسوونکے منع کړي، که چرې د وَس لرلو باوجود ئې منع نه کړو نو بيا په هم ګنهګار شي او د دوزخ حقدار به شي.[1]

## د قيامت په ورځ ځاروے مُسَلَّط کيدے شي...!!

د حلالولو نه پس د روح وتلو نه مخکښې د چاړو وهلو سره بے زبانه ځاروو ته بے وجې تکليف رسوونکو له ويريدل پکار دي چې چرې د مړ کيدو نه پس د عذاب د پاره دغه ځاروے مُسَلَّط نکړے شي.

د مکتبَةُ المَدينه چاپ شوے کتاب **جهنّم ميں لے جانے والے اعمال**، جلد 2، صفحه 323 نه تر 324 پورې دي: که چرې انسان ناحقه يو ځناور مړ کړو يا ئې وږے تږے اوساتو يا ئې د هغه د طاقت نه زيات کار واخستو نو د قيامت په ورځ به د هغه نه هغه شان بدله اخستے شي کوم چا چې په ځناور ظلم اوکړو يا ئې هغه اوږے اوساتو. حديث شريف

323

1...ابلق گھوڑے سوار، صفحه:15۔

کښې دي: رَحمتِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوزخ کښې يوه زنانه په داسې حالت کښې اوليدله چې هغه رازوړنده ده او يوه پيشو د هغې مخ او سينه راشوکوي او هغې له داسې عذاب ورکوي څنګه چې هغې (زنانه) په دُنيا کښې [هغه پيشو] قيد کړې وه او د اوږې ساتلو سره ئې ورته تکليف رسولے وو.[1]

## د حلالولو د وخت ځينې ښه نيتونه

د ښاروو حلالولو په وخت ښه ښه نيتونه هم اوکړئ، مثلاً دا نيتونه اوکړئ: * د الله پاک د رضا د پاره ښاروے حلالووم * الله پاک دا ښاروے پيدا کړو او زما په قابو کښې ئې راويستو، زما د پاره ئې د دې غوښه حلاله کړه، ځکه د الله پاک اِحسَان منلو په شکرانه کښې قرباني کووم.

الله پاک دې مونږ ټولو ته د رَحم دِلئ نعمت نصيب کړي، خاص طور په ښاروو د رحم کولو، ښه ښه نيتونو سره د قربانئ کولو، حلالې (يعني ښاروي) ته د آرام رسولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1…بخاری، کتاب المساقاۃ، باب فضل سقی الماء، صفحه:610، حديث:2364۔

www.dawateislami.net

## د امیرِ اهلِسُنّت د والِدِ محترم ذِکرِ خیر

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په 14 ذُو الْحِجَّةِ الْحَرَام د دورِ حاضر عظیم علمي او روحاني شخصیت، شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عَطّار، قادري، رضوي، ضیائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د والِدِ محترم عُرسِ پاک وي، راځئ! د بیان په آخر کښې د برکت حاصلولو د پاره د اَمیرِ اهلِسُنَّت د والِدِ محترم څه ذِکرِ خیر اورو:

## د ابو عطّار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مختصر تعارُف

د اَمیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ والِدِ محترم حاجـي عبدُ الرحمٰن رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شریعت او سُنّت پابند، متقي او پرهیزګاره شخصیت وو، هغوئي ته ډیر حدیثونه په یادو یاد وو، د دنیا مال او دولت جمع کولو لالچ ئې نه وو. هغوئي د سلسلۀ عالیه قادِریه کښې بیعت کړے وو.[1]

## د قصیدۀ غوثیه برکت

حضرت عبدُ الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډیرې مودې نه په کولمبو کښې وو، هلته د یو عالي شان حنفي مین جمات انتظامات هغوئي سنبال کړي وو. 1979ء کښې چې شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ کولمبو

323

1...تعارفِ امیرِ اہلِ سنت،صفحہ:11۔

ته تشریف یوړلو نو د هغه ځائے خلق ئې د والدِ صاحب نه ډیر متاثره بیاموندل. کولمبو کښې د قیام په وخت د اَمیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د ترور خاوند اووئیل چې ما په خپلو سترګو لیدلي دي چې د هغوئي والد صاحب به کله نا کله په کټ کښې ناست وو او قصیدهٔ غوثیه به ئې لوستله نو کټ به د زمکې نه اوچت شو.[1]

## د سفرِ حج په وخت انتقال

اَمیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ لا د پئیو خښلو په عمر کښې وو چې د هغوئي والدِ محترم په کال 1370ھ کښې د حج په سفر روان شو. د حج په ورځو کښې مِنٰی کښې سخته ګرمي راغله چې له هغې په وجه ډیر حاجیان صاحبان وفات شول، په هغوئي کښې حاجي عبد الرحمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم شامل وو، کوم چې یو څو ورځې بیمار وو او په **14ذوالحجة الحرام**1370ھ د دې دنیا نه رخصت شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! حاجي عبد الرحمان رَحْمَةُ الله عَلَيْه څومره خوش قسمته وو چې هغوئي په سفرِ حج کښې وفات شول. **حدیث شریف کښې دي:** څوک چې د حج د پاره اووتلو او وفات شو نو د قیامت د ورځې



1…تعارف امیرِ اہل سنت، صفحہ:11۔

www.dawateislami.net

پوره به د هغه د پاره د حج ثواب لیکلے شي. [1] په یو حدیث شریف کښې دي: څوک چې په دې لاره کښې (یعني د حج یا عمرې د پاره) اووتلو او وفات شو د هغه پیشي به نه وي او نه به ورسره حساب کیږي، هغه ته به اووئیل شي: ته جنّت ته لاړ شه! [2]

طیبہ میں مر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند سیدھی سڑک یہ شہر شفاعت نگر کی ہے [3]

## ایمان تازه کوونکے خوب

د اَمیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مشرې خور بیان دے: د پلار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات نه پس ما یو ځل دا ایمان تازه کوونکے خوب اولیدلو چې والد محترم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یو ډیر نوراني مخ والا بزرګ سره تشریف راوړو، زما لاس ئې اونیولو او اوئې وئیل: لورې! ته دوئي پیژنې؟ دا زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے بیا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ما ډیر شفقت اوکړو او اوئې فرمائیل چې ته ډیره نصیب والا ئې. [4]

سنا ہے آپ ہر عاشق کے گھر تشریف لاتے ہیں
میرے گھر میں بھی ہو جائے چراغاں یارسولَ الله

323

1…معجم اوسط، جلد:4، صفحه:93، حدیث:5321۔

2…مسند ابی یعلیٰ، مسند عائشه، جلد:4، صفحه:41، حدیث:4607۔

3…وسائل بخشش، صفحه:222۔

4…تعارف امیرِ اہل سنت، صفحه:12۔

د الله پاک دې په حاجي عبدُ الرحمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه رحمت وي، الله پاک دې د هغوئي شهزاده يعني اَميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ له د خير سره ډېر ژوند ورکړي، د هغوئي، د هغوئي د ټول کور والؤ خير دې اوفرمائي.

يا خُدا! ميرے مُرشد کو آباد رکھ اُن کے سارے گھرانے کو بھی شاد رکھ

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رحم دِله، نيک طبيعت جوړيدو، د نيکو جذبے موندلو، با اخلاقه او با کرداره جوړيدلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ، د ذيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې پوره حصه واخلئ! اِنْ شَآءَ الله الْكَرِيْم! ژوند کښې به مو سپرلے راشي، کردار به مو صفا شي او پرقيدونکے جوړ شي او د دين او دنيا بيشميره برکتونه به در نصيب شي. د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: **مدني قافله**. راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## شرابي سم شو

د هند د اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره د وابسته کيدو نه مخکښې شراب څښل، عياشي او شور زوَږ

کول، کنزلې کول، والدين او محلے والا تنګول، جواري کول زما معمول وو. يوه ورځ د دعوتِ اسلامي يو ذِمه وار اسلامي ورور په ما انفرادي کوشش اوکړو او ما ته ئې په مدني قافله کښې د سفر کولو ترغيب راکړو. د هغوئې په ترغيب زه د 3 ورځو د مدني قافلے مسافر جوړ شوم. د مدني قافلے په برکت ما د ګناهونو د ډک ژوند نه توبه کړه او د لمُونځونو پابندي کوونکے، د سحر لمَانځه د پاره مسلمانان رابيدارولو والا او نورو ته د مدني قافلو مسافر جوړيدو والا جوړ شوم.[1]

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
دل پہ گر زنگ ہو، سارا گھر تنگ ہو داغ سارے دُھلیں ، قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قرآن مع تفسير ايپلي کيشن

اے عاشقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي مونږ ته د موبائل په ذريعه هم د علمِ دين زده کولو او د نيکئ دعوت عام کولو موقعې راکوي. د دَعوتِ اسلامي د آئي تي ډيپارټمنټ له طرفه يو موبائل ايپلي کيشن جاري شوے دے، چې نوم ئې ***Quran with Tafseer*** (قرآن مع تفسير) دے. دا ايپلي کيشن د ***Android*** (اينډ رائډ) او ***IOS*** (آئي او ايس) دواړه قسم



1...برکاتِ مکه و مدينه، صفحه:18۔

www.dawateislami.net

ډیوائسز نه د ډاؤنلوډ کولو سره استعمالیدے شي، دې ایپلي کیشن کښې ۞ پوره قرآن کریم ۞ د آقائے نعمت، امامِ اهلِسنت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلے شوے ترجمۂ کنز الایمان ۞ د دورِ جدید د تقاضو مطابق ډیره آسانه ترجمه، ترجمۂ کنز العرفان او ۞ آسان انداز کښې لیکلے شوے، د اُردو د ټولو نه لیټسټ تفسیر، تفسیرِ صراط الجنان شامل دے.

تاسو چې چرته هم یئ، د دې ایپلي کیشن په مدد سره د قرآنِ مجید په آسانه ترجمه او تفسیر ځان پوهه کولے شئ او دې سره سره قرآني آیتونه، ترجمه او تفسیر په واټس ایپ، فیس بُک وغیره خپلو ملګرو ته لیږلے هم شئ. دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دین زده کړئ او نورو ته ئې اُورَسَوَئ او د نیکئ دعوت عام کولو ثواب اوګټئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب بیانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." [1]



1 …مشکوٰۃ، کتابُ: الْاِیمان، باب: الْاِعْتِصَام، جلد: 1، صفحه: 55، حدیث: 175۔

www.dawateislami.net

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د قرآنِ پاک تلاوت کول سُنَّت دي

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين: (1): زما د اُمَّت اَفضَل عبادت د قرآنِ پاک تلاوت دے.[1] (2): څوک چې د شپې 200 آيتونه تلاوت کړي، د هغه نوم به په تلاوت کوونکو کښې اوليکلے شي او څوک چې 400 آيتونه تلاوت کړي، د هغه د پاره به يو قِنطَار اَجر اوليکلے شي، يو قِنطَار د 120 قيراط برابر دے او يو قيراط د اُحُد د غر همره دے.[2]

اے عاشقانِ رسول! د قرآنِ کريم تلاوت کول سُنَّت دي. زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قرآنِ کريم ډير زيات تلاوت کولو ۞ حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: يو څيز به هم هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تلاوت کولو نه، نه منع کولو ۞ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې لمونځ کښې کله نا کله د پوره سورهٔ بقره او سُورَهٔ آلِ عمران تلاوت کولو ۞ هره شپه به ئې د سُوْرَهٔ سجده، سُورَهٔ ملک، سورهٔ بنی اسرائيل، سورهٔ زمر، سُوْرَهٔ کافرون، سُوْرَهٔ فلق او د سُوْرَهٔ ناس تلاوت کولو او بيا به اوده کيدلو.

323

1…شُعَبُ الْاِيْمان، باب:تعظیم قرآن، جلد:2، صفحه:347، حديث:2004۔

2…شُعَبُ الاِيْمَان، جلد:2، صفحه:401، حديث:2197.

الله پاک دې مونږ له هم د قرآنِ کریم د تلاوت کولو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

الٰہی خوب دے شوقِ قرآں کی تلاوت کا
شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

د مختلفو سُنَّتونو او آدابو زده کولو د پاره د مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه "بهارِشریعت" جلد3 حصّه 16 او د شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ 91 صفحو رساله **550 سُنَّتیں اور آداب** هدیةً واخلئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربیَّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

غم کے بادَل چَھٹیں قافلے میں چلو　　خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں　　بابِ رَحمت کُھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره ڪم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو: صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

www.dawateislami.net

## ﴿4﴾ د شپې لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې

323

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

323

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰
2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵
3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵